زنان برای زنان افغان
ښځې دافغان ښځو لپاره
WOMEN FOR AFGHAN WOMEN

# د ۱۴۰۱ کال د ورى د ۱۰ مې نیټې د پېښو په اړه د ښځې دافغان ښځو لپاره دفتر د مشرتابه بیانیه

د ښځې دافغان ښځو لپاره دفتر - **(WAW)** چې په متحده ایالاتو کې مېشته یوه غیر دولتي مؤسسه ده- د مشرتابه او بورډ د لوړ پوړو غړو په توګه، دا اړینه ده چې مونږ په کابل کې د بورډ د دوو پخوانیو غړو او طالب چارواکو ترمنځ د غونډې مشروعیت روښانه کړو. سره له دې چې دا سمه ده چې په دغه ناسته کې ګډون کوونکي د مؤسسې پخواني کارکوونکي او د بورډ پخواني غړي وې، مګر د ښځې دافغان ښځو لپاره دفتر یا زمونږ د پالیسیو استازیتوب نه کوي، او دوی د مؤسسې په استازیتوب د هیڅ ډول قرارداد کولو واک نلري.

ښځې د افغان ښځو لپاره د مدنی ټولنې یوه مؤسسه ده چې د افغان ښځو او نجونو د حقونو ملاتړ او ودې لپاره کارکوي. په ۱۳۸۰ کې د خپل پیل راهیسې، دغې مؤسسې په ټول افغانستان او متحده ایالاتو کې د زرګونو افغان ښځو، ماشومانو او کورنیو لپاره د ژوند د بدلون او ټولنیزو پروګرامونو د چمتو کولو لپاره نه ستړې کیدونکې هڅې کړې دی. د ۱۳۸۰ کال د زمری له میاشتې راهیسې په افغانستان کې د سیاسي، اقتصادي او بشري بدلونونو له بې ساري ننګونو سره سره، د غې مؤسسې په متحده ایالاتو کې د افغانانو او افغان کډوالو د ملاتړ لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړې. د نوي رژیم لاندې د خدمتونو او ملاتړ چمتو کولو ته دوام ورکولو فشارونه او پیچلتیاوې خورا سختې وې. امنیتي ستونزې د کارکوونکو، تاسیساتو او سرچینو په وړاندې د غیر قانوني توقیفونو، ځورونې او ګواښونو لامل شوي دي .

سره له دې، زمونږ متخصص ټیم به د امکان تر حده د افغان ښځو او نجونو لپاره په خوندي توګه د خدماتو وړاندې کولو لپاره ټولو ممکنه هڅو ته دوام ورکړې. مونږ په ټول افغانستان کې له زرګونو ښځو او نجونو سره همکاری کړې چې مالي مرستې تر لاسه کړي تر څوچې د هغوی د لومړنیو اړتیاوو لکه خواړه، سرپناه، روغتیا یې پاملرنې او زده کړې په برخه کې مرسته وشي. مونږ په بریالیتوب سره د سلګونو کارکوونکو، مراجعینو او د هغوی کورنیو سره مرسته کړې چې له هیواد څخه یو خوندي ځای ته لاړ شي. په متحده ایالاتو کې ښځې دافغان ښځو لپاره ټیم د هغو افغانو ښځو او نجونو لپاره چې له هیواده ویستل شوي دي فعالیتونه او ملاتړ ګړندی کړی او دغه کډوالو ته به د استوګنې او نویو کورونو ته د لیږدولو خدمات وړاندې شي، او په ویرجینیا کې به یو نوي مرکز پرانیستل شي چې زرګونو افغانانو ته به مرستې وړاندې کړي. لکه څنګه چې مونږ کار ته دوام ورکوو، مونږ په افغانستان کې د نورو مؤسسو سره کار کوو ترڅو خپل لاسرسی پراخ کړو او د اړتیا وړ خوراکي او نورو روغتیایي توکو د ویش په ګډون د اړو ښځو، نجونو او کورنیو سره د ډېرې بشري مرستې چمتو کړو. د ډېرو نورو پرمختیایي او مرستندویه مؤسسو په څېر، د ښځې دافغان ښځو لپاره مؤسسه هره ورځ زمونږ د ټیم د کار کولو لپاره غوره لارې ارزوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړې چې کارکوونکې او مراجعین د خطر سره مخ نه وي، سربېره پردې زمونږ ټیم د ښځو او نجونو لپاره زمونږکړې ژمنې تعقیبوي .

مونږ غواړو د مؤسسې بنسټ ایښودونکې او د بورډ پخوانۍ مشرې میرمن سونیتا ویسوانات او د بورډ پخوانۍ غړې میرمن مسعوده سلطان وندې څخه ستاینه وکړو خو غواړو دا روښانه کړو چې دوی نور په متحده ایالاتو یا افغانستان کې مؤسسې سره په رسمي توګه شکیل ندي. د لا وضاحت لپاره، ښاغلی سید محب حقیق نور په افغانستان کې د مؤسسې مشر نه دی. مونږ دوی ته د دوی په راتلونکو هڅو کې د بریا هیله کوو. افغان ښځو او نجونو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې ستاسو د دوامداره همکاری څخه مننه کو .